انجنیر سلطان جان کلیوال

۸/۵/۲۰۲۱

# پښـــیمـان

جنت می پـریښــوده دنیـــا ته راغـلم
هـغـې ښـــکلا نه  دې ښـــکلا ته راغلم

راتلـم چي دلته خیـال کی داسی راتلل
چي نـژدې ســتا د مـخ رڼـا ته راغـلم

ما وې : هــمدلــته بـل جنت جــوړم
چي د دنیـــا پـاکــې هـــوا ته راغـلم

نــه وم خبر چی زه پـه خــپله خوښه
د ښـــکلا غـیـر کی اژدهـا ته راغـلم

ګنــاه می خپــله ده اقـــرار کـــومــه
ډیـر بـی خـــبره دې ســودا ته راغـلم

دنیـــا می کـړه ځـانتـــه پخــپله دوزخ
له میـنې تیـر د کـرکې خـواته راغلم

نور کلیوال[1] می هم وریتـه کړه اورکی
خود پښـــیمانه ســتا درګاه ته راغـلم.

جولای/۲۵/۲۰۲۱
تورنتو – کانادا



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی.

---

[1] نور کلیوال = د ځمکې په مخ نور مخلوق.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com